# د والدینو/سرپرستانو او ځوانانو لپاره معلومات

ګرانو والدینو او سرپرستانو،

زموږ ښوونځی به دا دې خزان په موسم کې د ځوانانو د روغتیا په اړه د معلومات راټولو په سروې (HYS) کې برخه اخلي. په واشنګټن ایالت کې ځوانان له 2002 کال راهیسې په HYS سروې کې برخه اخلي. په سروې کې په لومړنیو کې د ګډون کوونکو ځوانانو شمېر یوازې څو زره وو او اوس مهال په کال کې له 215,000 څخه هم زیات شوی دی! په دې سروې کې به د ځوانانو د حالت، د ټولنیزو اړیکو ، رواني روغتیا، د نشه يي موادو، د ټپي کېدو خطرونو او نورو شیانو په اړه پوښتنې ترسره کېږي.

ټولنې، ولسوالۍ، ښوونځي او د عامې روغتیا ادارې د سروې پایلې دا دې لپاره کاروي تر څو د قوانینو لارو چارو او پروګرامونو لارښوونه وکړي کوم چې د ځوانانو د هوساینې ملاتړ لپاره جوړ شوې دي. د HYS سروې د ځوانانو لپاره یو مهمه لاره ده ترڅو زموږ د ایالت راتلونکی کې مرسته وکړي. **موږ ستاسو د ځوانانو په دې سروې کې د ګډون کولو څخه ډېره ستاینه کوو. مهرباني وکړئ دا معلومات له خپل ځوان سره شریک کړئ.** بیا د سروې په اړه دا دې سره خبرې وکړئ او پریکړه وکړئ چې ستاسو ځوان به په دې سروې کې ګډون کوي که نه.

## نور معلومات ترلاسه کولو ته اړتیا لرئ؟

که تاسو د سروې د هدف یا د سروې د کړنلارو په اړه کومې پوښتنې لرئ، مهرباني وکړئ د ځوانانو د روغتیا په اړه د معلومات راټولو سروې له ښوونځی مشر څېړونکي سره په دې شمېره HYS-7111 (877) یا د بریښنالیک **healthy.youth@doh.wa.gov** له لارې اړیکه ونیسئ. تاسو د ځوانانو د روغتیا په اړه د معلومات راټولو سروې په اړه نور معلومات دا دې ویب پاڼې له لارې ترلاسه کولې شئ: **www.AskHYS.net**

د واشنګټن ایالت د اداري بیاکتنې بورډ د ځوانانو د روغتیا په اړه د معلومات راټولو سروې هغه کړنلارې تصویب کړي دي کوم چې په دې لېنک کې څرګنده شوي دي. تاسو دلته د دې په اړه نور لوستلې شئ:
**www.askhys.net/HYS2025 IRB Requirements**

که تاسو باور لرئ چې دا کړنلارې په سمه توګه نه دي تعقیب شوې، نو مهرباني وکړئ په 8488-583-800-1 شمېره زنګ ووهئ. ستاسو لپاره خپل نوم لېکل مهم نه دي. ټول پیغامونو ته به ځواب ورکړل شي.

## پرله پسې پوښتل شوې پوښتنې

**پوښتنه: د چا څخه به د سروې د ترسره کولو لپاره پوښتل کیږي**
**ځواب:** زده کوونکي د واشنګټن ایالت په ټولو ښوونځیو کې د 6، 8، 9 او 12 ټولګیو، او په کوچنیو ولسوالۍ ښوونځیو کې د 7، 9 او 11 ټولګیو زده کوونکو څخه به پوښتنې ترسره کیږي.

هغه کسان چې په دې سروې کې ګډون نه کول غواړي، به په بل فعالیت کې ګډون کوي، لکه د زده کړو یا په کتابتون کې لوستل. په سروې کې برخه نه اخیستل هیڅ جریمې نه لري، او ستاسو د ځوانانو نمرې به نه اغېزمنه کیږي.

**پوښتنه: ایا په دې سروې کې ګډون کول په رضاکارانه توګه دی؟**
**ځواب:** هو! هغه ځوانان چې په دې سروې کې ګډون کوي پوښتنې پریښودلې شي، او په هر وخت کې دا سروې پریښودلې شي. که تاسو نه غواړئ چې ستاسو ځوان په دې سروې کې برخه واخلي، تاسو په دې اړه ښوونځي ته زنګ وهلې شئ ترڅو دوی ته په سروې کې د ګډون نه کولو لپاره اجازه ورکړئ. ځوانان په دې اړه خپل ښوونکي ته هم ویلې شي چې دوی په سروې کې ګډون نه کول غواړي.

**پوښتنه: په دې سروې کې به کوم ډول پوښتنې پوښتل کیږي؟**
**ځواب:** د سروې پوښتنې کوم چې د هغو سروې ګانو څخه ترلاسه کیږي چې په ټول هېواد او واشنګټن کې ترسره شوي وي. والدین یا سرپرستان پوښتنې دلته دا دې ویب پاڼې له لارې کتلې شئ:
**https://www.askhys.net/Resources/Survey Questionnaires**.

په ځینې موضوعات کې شامل دي:

- د خلکو په اړه معلومات، لکه عمر، جنس، نسل او قومیت
- د ښوونځي او ټولنې په اړه احساسات
- د والدینو، ملګرو او ګاونډیانو سره اړیکې درلودل
- فزیکي فعالیت او د خوړو ته لاسرسی درلودل
- د روغتیا په اړه زده کړې
- د نشه یي موادو کارول
- د خوندیتوب او تاوتریخوالي پورې اړوند چلندونو او احساساتو په اړه معلومات
- د جنس په اړه پیژندنه[1]
- د جنسي خوښې په اړه پېژندنې (دا د 6 او 7 ټولګي لپاره نه دی)
- د جنسي چلند او تاوتریخوالی په اړه معلومات (دا د 6 او 7 ټولګي لپاره نه دی)[2]

**پوښتنه: څوک د سروې پایلو ترلاسه کولو ته لاسرسی لري؟**

**ځواب:** د فردي ځوابونو معلومات سره یوځای او په راپورونو کې لنډیز کېږي چې د ښوونځیو او ولسوالیو لپاره چمتو کېږي او د ښوونځیو ولسوالی مشرانو او د ښوونځي مشر ته وړاندې کېږي. د ولسوالۍ، سیمه ییزو تعلیمي خدمتونو ولسوالیو (ESD)، او دولتي راپورونه په عامه توګه د AskHYS.net له لارې کې شریک کیږي.

د انفرادي ځوابونو د معلوماتو ټولګې غوښتنه د تایید شویو معلوماتو کاروونکو، لکه سیمه ییزې روغتیا ځانګو، او څېړونکو، ته د معلوماتو شریکولو د تړون له لارې شتون لري، چې د روغتیا ځانګې لخوا مدیریت کېږي

**پوښتنه: د ګډون کوونکو شخصي معلومات څنګه خوندي ساتل کېږي؟**

**ځواب:** د هر زده کوونکي د HYS ځوابونه په بشپړ ډول خوندي ساتلو تضمین نشې ورکول کیدې. په نادره پېښه کې یو غیر اجازه لرونکې کس د یو زده کوونکي د سروې ځوابونو پایلې کتلې شې، ځینې ګډون کوونکي لکه د ښوونځي، ټولګی، نسل/قومیت، او بهرني معلوماتو په مرستې سره پیژندل کیدې شې.

خو، HYS تل په رضاکارانه توګه کار ترسره کوې او موږ ځینې ګامونه پورته کوو ترڅو د ګډون کوونکو محرمیت او پټ معلومات خوندې وساتو، په دې کې شامل دي:

- ګډون کوونکي خپل نوم د سروې د ترسره کولو په وخت کې نه لیکي، او داسې هیڅ د پېژندنې شمیرې نه راټولیږي چې سروې د کوم ګډون کوونکي سره تړون لرې.
- ګډون کوونکي سروې په یوه بریښنایي سروې پلاتفورم په مرسته ترسره کوي او ځوابونه په خوندي توګه کمپیوټر کې ذخیره کېږي چې محدود لاسرسی لري.

**پوښتنه: د سروې پایلې څنګه کارول کېږي؟**

**ځواب:** ښوونځي، د ښوونځیو ولسوالۍ، ټولنې، او د عامې روغتیا اداري د پایلې کاروې ترڅو د واشنګټن ځوانان په اړه پوهه شې او هغوی ته هغه خدمتونه چمتو کړي چې هغوې ورته اړتیا لري. پایلې د مالي مرستې غوښتلو، د پروګرامونو او پالیسیو پلان جوړونې او ارزونې، او نورو چارو لپاره کارول کېږي.

د ځوانانو د روغتیا په اړه د معلومات راټولو سروې د لاندې دولتي ادارو لخوا ملاتړ کېږي: د روغتیا پاملرنې ادارې – د رواني روغتیا او رغونې برخې، د روغتیا ځانګې، د عامې پوهنې د ښوونځیو ولسوالۍ مشرانو دفتر، او د شرابو او د ښوونځي مشر بورډ لخوا.

[1] یوازې د 8 مې ټولګي او پورته زده کوونکي به دا پوښتنې ترلاسه کوې. هغه ښوونځي چې غواړي، په خپل سروې پوښتنلیک کې د جنسیت په اړه پوښتنه زیاتولې شې کوم چې د 6 مې او 7 مې ټولګي سروې کې د کوچنیو زده کوونکو لپاره جوړې شوې دې.

[2] ښوونځي د جنسي چلند او تاوتریخوالي پوښتنې د نه شاملولو په اړه غوښتنې کولې شې.